مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڑ ۲۰۲۳/۱۰/۲۵

غازي امان الله خان د انګرېزي استخباراتو په لومه کې

(دیارلسمه برخه)

له افغان ولس او غازي امان الله خان سره د جنرال نادر خان غداري او ټګي (۲)

جنرال نادر خان پاچا شو چې وروسته له دې د نادر شاه په نوم یادیدۀ، لکه وړاندې مو چې ولوستل، فخر افغان، خان عبدالغفان خان چې له نادر خان سره یې پېژندل او د افغانستان پر حالاتو غمجن ؤ، په خپلو خاطرو کې لیکي چې«د نادر خان تار [ټلګرام] ما له راغی چې کابل فتح شو او چې خلک خبر شو چې کابل فتح شو نو یو قسم خوشحالي په خلکو راغله چې بیان یې کولی نه شم، بله دا چې د قوم حوصلې زیاتې شوې او د ملک د بر سر او د کوز سر نه جلوسونه او جنجونه راروان شول په جلوسونو کې خلک ګډېدل، ځکه چې ډېر خوشحاله وو، د غربینونو ډزې وې ټوپکې هم خلاصیدې.

دا ټول جلوسونه په اتمانزو کې یو ځای شول او یوه لویه جلسه وشوه... .

کابل د ۱۹۲۹ ع، کال په اکتوبر کې فتح شو او نادر خان د خپلې بادشاهۍ اعلان وکړ، په دې خبره باندې مونږ ډېر حیران شو، ولې چې داسې کار یې وکړو چې زمونږ په خواب او خیال کې نه ؤ ځکه چې هغه خو مونږ سره وعده کړې وه چې زه به نه باچا کېږم.

مونږ خو پرېږده چې خپلو خلکو سره یې کومې وعدې کړې وې هغه یې هم ماتې کړې، په دغو ورځو کې عبدالهادي خان چې کابل ته روان ؤ ومې لیدو، زما په لیدو سره یې وخندل او ویې ویل چې کم بخت په یوه وعده هم ټینګ نه شو، که بادشاهي یې خوښه وي نو کم از کم(Constitutional Monarchy) کانستي ټیوشنل مانرکي، اعلان به یې کړی وای.

د نادر خان بې وفایۍ زمونږ په خلکو ډېر خراب اثر کړی ؤ، لېکن مونږ څه کولی شو، مونږ دا خبره خدای تعالی ته پرېښوده **خدا دې سزا ورکړي چې بیا څوک قوم سره داسې کېسه [خیانت] ونه کړي.**[1]

مؤرخ، سېد بهادر شاه، ظفر کاکاخېل په خپل تاریخ (پښتانه د تاریخ په رڼا کې) لیکي چې «د نادر خان د دې اعلان په وجه نه صرف په افغانستان کې بلکې په هندوستان کې هم د امان الله خان د طرفدارانو جذباتو ته ډېره صدمه ورسیده او د نادر خان په دې رویه یې ډېر خفګان ظاهر کړ، چنانچه مولاناظفر علي خان د هندوانو او مسلمانانو د لوري نه د نادر خان په خدمت کې د تار برقي [ټلګرام] په ذریعه پیغام ولېږلو:«زه ستاسو په خدمت کې د دې تاریخي فتح په موقع چې تاسو د وحشي سقاویانو برخلاف حاصله کړې ده او چې د هغې په نتیجه کې تاسو د یو فاتح او بریالي په ډول په کابل کې داخل شوی د زړه د اخلاصه مبارک بادي پیش کوم او د دې سره به دا هم ووایم چې زما په دې خبره هرګز یعقین نه شي کیدی چې تاسو د افغانستان د حکومت واګې په خپل لاس کې د اخستلو فیصله کړې ده ځکه چې د افغانستان د تخت جایز او حقیقي حقدار ستاسو ولي نعمت غازي امان الله دی، که چرې تاسو واقعي دا فیصله کړې وي نو په دې به ستاسو هغه ټول مخلصانه کوششونه، وعدې او لوظونه بالکل غلط ثابت شي، کوم چې تاسو څو ځله وړاندې کړي وو او د دې لوظونو او وعدو منشا دا وه چې د تاسو د ټولو کوششونو او سرګرمیانو واحد مقصد دا ؤ چې په تخت افغانستان د اعلیحضرت امان الله خان دوباره راوستلی شي. ستاسو په دې فیصله به ستاسو ټولې کامیابۍ عبث لاړې شي او ستاسو هغه عالمګیر شهرت چې د هغې په بنا تاسو د منځنۍ ایشیا یو لوی مدبر او د درست [ښه] ذهن مالک ګڼلی شی، په خاورو کې دفن شي، زه د هندوستان د هندوانو او مسلمانانو د یو ترجمان په حیثیت دا خپل فرض ګڼم چې ستاسو د فهم و تدبر نه دا خواست وکړم چې اول د دې نه چې تاسو داسې قسم څه کار وکړی چې د هغې تلافي

[1]: زما ژوند او جدوجهد .۳۵۳- ۳۵۴مخونه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بیا وروستو ګرانه شي او د هغې په وجه به افغانستان د نورو، نورو کشالو په منځ کې ګیر شي، په خپلې فېصلې یو ځل بیا غور وکړئ هندوستانیان او د درست [ښه] ذهن وفکر خاوندان ټول پښتانه د اعلیحضرت امان الله خان د بیرته راغوښتلو خواهشمند دي، **موږ یو ځل بیا ستاسو وعدې تاسو ته در په یادوو.»**[2]

اوس به د سلامخانې د غونډې د څرنګوالي څېړنه او ارزونه وکړو، تر څو روښانه شي چې آیا رښتیا هم نوموړي غونډې دا واک درلود چې د ټول افغانستان په استازيتوب نادر خان د هېواد د پاچا په توګه وټاکي؟

د سلامخانې مانۍ او د سلامخانې په غونډ کې حاضر کسان:
د افغانستان د تاریخي آبداتو د ساتنې ریاست په وینا، د سلامخانې ودانې چې په یو پوړ کې ودانه شوې ده ۱۲۰متره اوږدوالې او ۴۰متره سور لرې او زر تنه په کې ځاییږي.

د فرانسوی لیکوالې اندرې یولیس د مالوماتو پر بنسټ د سلامخانې ودانۍ له سقاؤ سره په جګړه کې زیانمنه شوې وه، طبعي ده چې د ویجاړۍ له امله د ډېرو کسانو ځایول ناشونې کیږي خو بیا هم څومره چې امکان ؤ خلک دننه شوي وو.
ـ یولیس وایي چې په سلامخانه کې په **سلګونو** کسانو شتون درلود، **غونډې ته منګل، وزیر، اپریدي، دُراني او په کابل کې د بهرنیو سفارتونو استازي راغلي وو.**
ـ شاه ولي خان لیکي چې په سلامخانه کې **د ښار مشران، د شاهي کورنۍ پخواني مشهور کسان، پوهان، علماء، لیکوالان، د دولت د شورا غړي، کورډیلوماتیک هیئت او د قومي لښکرو مشران حاضر وو.**
ـ د وزیرستان د سرتېرو قوماندان جرنېل یار محمد خان وایي چې **«دلته د کابل ښار مخور کسان او پاتې سرداران د سپاه سالار هرکلي ته راغلي وو، د سفارتونو یو شمېر غړي هم تر سترګو کیدل.»**
ـ میر محی الدین انیس د سلامخانې د ګډونوالو په اړه ډېر مالومات نه دي وړاندې کړي یوازې دومره لیکي چې دا مهال **د سلامخانې د ننه او بهر ځایونه په خلکو ډک وو** چې په هغوی کې په کابل کې مېشت بهرنیانو هم حضور درلود.
ـ میر محمد صدیق فرهنګ وایي چې غونډې ته **د وزیرو او جنوبي سیمې د لښکرو مشران، د کابل او شاوخوا سپینږیري او د اماني دولت چارواکي**غوښتل شوي وو.
د پورته پنځو تنو لیکوالانو د څرګندونو په تړاؤ چې ځینې یې د سلامخانې په غونډه کې حاضر ؤ، د هغو کسانو په اړه چې له نادر خان سره یې بیعت کړی او هغوی چې بیعت یې نه دی کړی، په دلایلو ولاړ مالومات وړاندې کوو:
ـ د آندرې یولیس د پورته یادونو د سمون لپاره ویلی شو چې له سقاؤ سره په وروستۍ جګړه او د سلامخانې په ناسته کې یوازې د وزیرستان او لویې پکتیا سرتېرو ګډون کړی ؤ، سربېره پر دې د کابل ښاریان هم په نوموړي غونډه کې حاضر وو. اپریدیو یا د مشرقي نورو قومونو او د کندهار دُرانیو د کابل په وروستۍ جګړه او غونډه کې ګډون نه درلود.
ـ د شاه ولي خان د وینا په هکله باید ووایو چې نوموړي د سلامخانې په ناسته کې د لښکرو د مشرانو او بهرنیو سفارتونو استازو تر څنګ **یوازې د کابل ښار** اوسیدونکو د بېلابېلو پوړونو (طبقو) یادونه کړې ده، نه د ټول افغانستان.
ـ میر محمد صدیق فرهنګ او غازي یار محمد خان دواړو ویلي دي چې په غونډه کې د لښکرو مشران، د کابل ښار مخور کسان او د اماني دولت ځیني پخواني چارواکي راغلي وو. غازی یار محمد خان، د نورو په څېر په کابل کې د بهرنیو سفارتونو استازو د ګډون یادونه هم کړې ده.
د پورته مالوماتو له یو ځای کولو وروسته ویلې شو چې د سلامخانې په غونډه کې یوازې د وزیرستان او جنوبي سیمې د لښکرو قوماندانان، د کابل ولایت سپینږیري او په کابل کې د اماني دولت ځیني پاتې چارواکي، د اماني کورنۍ ځیني غړي او یو شمېر د بهرنیو سفارتونو استازي او د لښکرو عادي سرتیري (چې شور او زوږ یې جوړ کړی ؤ) موجود وو، په داسې حال کې چې په نوموړي غونډه کې د کابل ولایت له استازو پرته، د افغانستان نورو استازو ګډون نه درلود.
د بهیرنیو سفارتونو استازي هم په لږ شمېر راغلي وو، ځکه چې د سقاؤ، لا کابل نه ؤ اشغال کړی چې په کابل کې د سفارتونو ډېرغړي او د دوی کورنۍ چې شمېر یې له (۵۰۰) هم زیات ؤ، د انګرېزانو په الوتکو کې پېښور ته استول شوي وې.
سره له دې چې فرانسوی ژورنالستي آندرې یولیس په سلامخانه کې د سلګونو کسانو یادونه کړې ده خو د آنیس په وینا چې د سلامخانې مانۍ له خلکو ډکه وه، نو په نوموړي مانۍ کې له (۱۰۰۰) تنو زیات کسان نه وو موجود، په دې دلیل چې نوموړي مانۍ، لکه پورته چې یادونه وشوه، د (۱۰۰۰) زرو، تنو لپاره ودانه شوې ده او له زرو تنو زیات کسان نه په کې ځاییږي.

---

[2]:پښتانه د تاریخ په رڼا کې. ۸۷۹-۸۷۹ مخونه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نادر خان ته د پاچاهۍ وړاندیز او د غونډې ګډونوالو مشروعیت:
شاه ولي خان وايي چې د غونډې **ټولو ګډونوالو** له نادر خان څخه غوښتنه وکړه چې پاچاهي ومني. مير محمد صديق فرهنګ ليکي چې «دا مهال د پخواني دولت د پوهنې وزير فيض محمد خان راوړاندې شو ويې ويل چې د اماني لويې جرګې اکثريت غړي په کابل او په همدې غونډه کې حاضر دي او ستاسو پر پاچا کيدلو باندې ټينګار کوي، فيض محمد خان د **جنوبي د خلکو غوښتنه تاييد کړه**.
د فرهنګ له څرګندونو چې (فيض محمد خان د جنوبي د خلکو غوښتنه تاييد کړه.) ښکاري چې لومړی ځل د جنوبي خلکو نادر خان ته د پاچاهۍ وړانديز کړی ؤ.
دا خبره هم د يادولو ده چې په غونډه کې د لويې پکتيا د ټولو قومونو مشران نه وو حاضر او له نادر خان څخه يې ملاتړ نه وو کړی. يوازې د منګلو قوم چې مشري يې دوو تنو ورونو، سنګ او زلمي کوله، له نادر خان سره مله وو، د منګلو قوم له دې کبله له نادر خان سره ولاړ ؤ چې په ۱۹۲۴ز، کال کې د ملا عبدالله (ګوډ ملا) په لمسون يې د امان الله خان له ځواکونو سره سختې جګړې کړې وې.
د ځدرانو مشر زمرک خان چې پلار يې، ببرک خان چې د امان الله خان په ملاتړ د ګوډ ملا په جګړو کې وژل شوی ؤ، له نادر خان سره د کابل په جګړو کې حاضر ؤ، زمرک خان چې د امان الله خان کلک پلوی ؤ، د امان الله خان په نوم يې له نادر خان څخه ملاتړ کاوه، دا مالومات نه شته چې هغه به له نادر خان سره بيعت کړی وي که نه خو وروسته د ظاهر شاه په واکمنۍ ۱۹۴۴ز، کال کې، له دولتي ځواکونو سره په جګړو کې ښکېل شو، حکومتي الوتکو د ببرک خان کلا بمبار کړه او زمرک خان د نادري کورنۍ پر خلاف وزيرستان ته کډه شو.
له نادر خان سره د ځاځيو يو شمېر وګړي هم ولاړ وو او تر کابله ورسره راغلي وو. د لويې پکتيا يو شمېر قومونه په ځانګړي توګه سليمان‌خېل، د ځدرانو دريخېل او نور، د نورالمشايخ مجددي په لمسون د سقاؤ ملاتړي وو او پاتې نور غلي يا بې پرې پاتې وو.
سربېره پر دې د وزيرستان د لښکر مشر غازي يار محمد خان او په همدې لښکر کې د بېلابېلو قومونو مشران لکه وزيرو، مسيدو، دَوړو او تنيو د نادر خان د پاچا کيدلو پر وړاندې غلي پاتې شول او بيعت يې ورسره ونه کړ چې دا د دوی د مخالفت په مانا و. لکه چې ومولوستل، جرنېل يار محمد خان ليکي:«موږ د وزيرو مسيدو، دوړو او تنيو مشران بايد کوم حرکت ښکاره نه کړو او **محمد نادر خان په خپل، نه بيعت کولو سره په دې وپوهوو چې موږ ناراضه يو او ده، د قرآني عهد خلاف کار کړی دی.»**
هغه څو تنه د امان الله خان د کورنۍ غړي او د حکومت لوړ پوړي چارواکي چې په کابل کې پاتې او په غونډې ته راغلي وو، يوازې څلور تنو هر يو: د نادر خان د تره زوی، سردار فيض محمد خان، غلام محمد خان وردګ د امان الله خان د کورنيو چارو وزير. د شاه ولي خان پر وينا د امان الله دوه ورونه: سردار محمد عمر خان او سردار امين الله خان له نادر سره بيعت وکړ.

په کابل کې مېشتو د بهرنيو سفارتونو سياسي استازي چې د مراسمو لپاره د وسله والو په بدرګه راوستل شوي وو او نادر خان د نوي پاچا د غوراوي لپاره مشوره ترې وغوښته، د ترکيې مختار وزير [سفير] د خپلو سيالانو په نمايندګۍ داد ورکړ چې تر ده بل غوره کانديد نه شته.
په غونډه کې د نادر خان دا عمل چې له بهرنيانو يې پاچاهۍ ته د رسيدلو په لاره کې مرسته او ملاتړ وغوښت او د ترکيې سفير ملاتړ ترې وکړ، د افغانستان له قوانينو خلاف کار او د بهرنيانو څرګنده مداخله وه. بهرنيو سفيرانو يوازې د ميلمنو حيثيت درلود، هغو حق نه درلود چې د افغانستان د پاچا په ټاکلو کې رول ولوبوي.
د يادولو ده چې د سلامخاني د غونډې په اړه مرحوم غازي امان الله خان هم څرګندوني کړي دی چې وايي:«... ده [نادر] پخپلو اعلانونو کې ويل **چې هغه ملت پاچاهۍ ته اړ کړی دی** خو ټول افغانستان پوهيږي چې په سلامخانه کې څو کسانو شتون درلود او هغوی د ملت د استازو په توګه څومره حيثيت درلود او هغوی څه وويل.»[3]

په پای کې دې پايلې ته رسيږو چې د سلامخاني په غونډه کې د افغان ولس په سلو کې شل استازي هم نه وو حاضر او هغه چې حاضر وو د هغوی ډېر کسان د نادر خان لخوا، له وړاندې پوهول شوي وو چې هغه ته د پاچاهۍ وړاندې او ملاتړ ترې وکړي.
پوښتنه دا ده چې د سلامخاني په غونډه کې د جنوبي سيمې (لويې پکتيا) او د کابل ښار اوسيدونکو، داسې وګڼه، زرو تنو دا حق درلود چې د ټول هېواد برخه‌ليک وټاکي؟

---

[3]: کشف الحال نادر، به قلم اعيحضرت امان الله خان.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د سلامخاني د غونډې زر تته ګډونوال خو پر ځای پرېږده، بلکې د جنوبي سیمې او کابل ټول ولایت وګړو دا حق او اختیار نه درلود چې د غازي امان الله خان پر ځای، د نادر خان په څېر چې فطرتاً یو پردی پال او غولونکی شخص ؤ او تل یې پر پردیو تکیه درلوده، د پاچا په توګه وټاکي.

نېټه:۱۴۰۲/۸/۲ل. ل

نور بیا

د ښاغلي محمد انور اڅړ آرشیف

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ